# مَن تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ». "څوک چې له کوم قوم سره مشابهت وکړي نو دی له هغوی څخه دی

له ابن عمر رضي الله عنهما څخه روایت دی وایې چې رسول الله صلی الله علیه وسلم فرمایلي دي: «مَن تَشَبَّهَ بِقَوْمٍ فَهُوَ مِنْهُمْ». "څوک چې له کوم قوم سره مشابهت وکړي نو دی له هغوی څخه دی".
[حسن]

رسول الله صلی الله علیه وسلم خبر ورکوي، څوک چې د کافرانو، فاسقانو او یا نیکانو سره مشابهت وکړي؛ چې د هغوی له ځانګړنو عقایدو، عبادتونو او یا رواجونو څخه یو څه تر سره کړي، - نو دی له هغوی څخه دی؛ ځکه چې په ښکاره ورسره مشابهت د دې لامل ګرځي چې باطني مشابهت ورسره پیدا شي، او پدې کې شک نشته چې له یو چا سره ورته والی له هغوی څخه د اغېزمنېدلو په پایله کې کیږي، او کېدی شي هغوی سره د مینې کولو، هغوی ته د درناوي ساتلو لامل شي او دا کېدی شي انسان دې ته اړباسي چې په باطن او عباداتو کې ورسره مشابهت پیدا کړي، الله - جل جلاله - دې ترې مونږ وساتي.

https://sunnah.global/hadeeth/ps/show/5353